ما سره پدې بيعت وکړئ چې: الله سره به هېڅ شی نه شريکوئ، غلا به نه کوئ، زنا به نه کوئ

له عبادة بن الصامت رضی الله عنه څخه روایت دی - نومورې د بدر په غزا کې یې له ګډون کوونکو او د عقبې په شپه یو له ولسواکانو څخه و، هغه روایت کوي چې رسول الله ﷺ په داسې حال کې وفرمایل چې شاوخوا یې د صحابه کرامو یوه ډله ناسته وه: «ما سره پدې بيعت وکړئ چې: الله سره به هېڅ شی نه شريکوئ، غلا به نه کوئ، زنا به نه کوئ، خپل اولادونه به نه وژنئ، پر چا به د خپلو لاسونو او خپلو پښو پر وړاندې بهتان دروغ او تهمت نه لګوئ، او په معروف (ښه کار) کې به نافرماني نه کوئ، څوک چې دا شرطونه پوره کړي، نو اجر يې په الله دی، څوک چې له دې څخه کومه ګناه وکړي او په دنيا کې پرې سزا ورکړل شي، نو دا سزا د هغه لپاره کفاره ده، او څوک چې دا ګناه وکړي، خو الله يې پرده وکړي، نو دا د الله په اختيار کې ده: که وغواړي، بخښنه وکړي، او که وغواړي، سزا به ورکړي» نو مورِ له رسول الله ﷺ سره پر دې شرطونو بيعت وکړ.به ورته

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

عبادة بن الصامت رضي الله عنه، چې د بدر سترې غزا ګډونوال او د خپل قوم مشر و، هغه قوم چې د منى په سيمه کې د عقبه شپې په ترڅ کې له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه د ملاتړ بيعت ته ورغلى وو - هغه مهال چې رسول الله صلى الله عليه وسلم لا هم په مکه کې و، مدينې ته له هجرت نه مخکې - روايت کوي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د خپلو اصحابو ترمنځ ناست و، نو له هغوى يې وغوښتل چې پر ځينو چارو ورسره بيعت (ژمنه) وکړي. لومړى: دوى به د الله تعالى په عبادت کې هېڅ شى نه شريکوي، که څه هم لږ وي. دويم: غلا به نه کوي. دريم : چې بد کاري (زنا) به نه کوي. څلورم : دا چې خپل اولادونه به نه وژني— نارينه اولادونه د فقر له وېرې، او ښځينه اولادونه د شرم يا عار له وېرې نه وژني. پنځم : دا چې دروغ به نه جوړوي—يعني داسې دروغ به نه جوړوي چې د خپلو لاسونو او پښو ترمنځ يې اختراع کړي، ځکه چې اکثر اعمال د لاسونو او پښو له لارې ترسره کېږي، که څه هم نور غړي پکې هم برخه لري. شپږم : دا چې په معروف (ښه کار) کې به د رسول الله ﷺ نافرماني نه کوي. څوک چې له دوى څخه پر عهد ثابت پاتې شي او دا شرطونه عملي کړي، د هغه اجر د الله پر غاړه دى، او څوک چې له يادو ګناهونو څخه (پر شرک سربېره) کومه يوه بله ګناه وکړي، او په دنيا کې پرې حد جاري شي، نو دا حد د هغه لپاره کفاره ده، او ګناه يې پرې پاکه شوه، او څوک چې له دې ګناهونو څخه کومه يوه وکړي، خو الله يې پرده وکړي، نو د هغه کار د الله په اختيار کې دى: که وغواړي، بخښنه به ورته وکړي، او که وغواړي، سزا به ورکړي، نو ټولو حاضرينو له رسول الله ﷺ سره پر همدې شرطونو بيعت وکړ.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/66210